مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۱/۰۳/۲۲

غزل

مونږ سره شوې دا جفا ده ربه
هره خوا جوړه کربلا ده ربه

تړون په ډاګه مې د قتل کوي
ښکاره مې وژني برالا ده ربه

ښکاره اقرار کوي شرمېږي پرې نه
هره خبر یې د غلا ده ربه

زما په وینو باندې نه مړېږي
جوړه په مونږه واویلا ده ربه

اوس بیلولی یې له ټوپکه نه شم
دغه اوس څرنګه بلا ده ربه

ای پسرلیه له عالمه ځار شم
چې یې په مخ خپره ځلا ده ربه

مصطفی پسرلی
21/March/2021

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ